# بیځایه نومونې

چې ننګ په لیلا ونکړي مجنون خوداسی نه وي
چې سرپه وطن ورنکړي پښتون خوداسی نه وي

د مینې په جنون کی هرعاشق له سره تېروي
چې سرته پکی خیرغواړي جنون خوداسی نه وي

داځېنې د ښکیلاک اوخلاصون فرق کولای نه شي
پردي موچی مشران تاکي خلاصون خوداسی نه وي

د ژوند په ځای مونږبیرته د جنګونوپه لاربیایي
که دې ته څوک بدلون وایي بدلون خوداسی نه وي

ملت چې په قومونواوقومونه په خېل ویشي
دې کارته که څوک یون وایي نویون خوداسی نه وي

د ګډ ژوند بنستونه موتول وران شول لاورانیږي
ورانی که څوک سمون بولي سمون خوداسی نه وي

**بیئایه نومول دي وروروژنه (قیام ) بولي**

**چی ورونه یوبل وژني نوپاڅون خوداسی نه وي**

**الحاج الهام الدین قیام**

**03/11/15**